# وزارت امورمهاجرین وعودت کنندگان

# د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت

## د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

# خبرپاڼه خبر نامه

24 و 25 میزان _سال 1402





# اخبار مهم

افغانستان - منطقه - جهان

## فهرست مطالب


عنوان صفحه

د ترکيي نوي سفير د مهاجرينو چارو له وزير سره وليدل-----------------------------------------------------------1

جبري راستنېدونکو د عمومي وضعيت سره د مبارزې کمېسيون د ننګرهار ولايت د اجرائيه کمېټې له کړنو څخه څارنه وکړه 1

د ايران د اوسېدونکو د ناڅرګندو پېښو د قربانيانو د ملاتړ په موخه د خلکو د دفتر لومړۍ غونډه جوړه شوه----------2

په هرات ولايت کې د زلزلې له امله تر سلو زيات کسان ټپيان شوي دي-------------------------------------------------3

په نورستان ولايت کې له لسګونو کورنيو سره نغدي مرسته وشوه-------------------------------------------------4

له ايران څخه ګڼ شمېر بانډې درې زره مهاجر هېواد ته راستانه شول --------------------------------------------------5

له پاکستانه څه باندې ۳۰۰ افغان کډوالي کورنۍ بېرته هېواد ته راستنې شوې ------------------------------------------5

کمک نقدی برای 45 خانواده در ولایت بادغیس توزیع شد--------------------------------------------------------------6

په بلخ ولايت کې پر ۱۴ کورنيو د خوراکي توکو مرسته وويشل شوه----------------------------------------------6

بیش از هزار نفر مهاجر از ایران به کشور عودت نمودند-----------------------------------------------------------7

علاقه‌مندی شرکت‌های ترکی در راستای سرمایه گذاری در سکتور زراعت و مالداری افغانستان-----------------------8

علاقمندی سرمایه گذاری یک تاجر ایرانی به سرمایه گذاری در بخش معدن کشور-----------------------------------9

۵ هزار افغان از طریق گذرگاه چمن - سپین بولدک به افغانستان برگشته اند------------------------------------------10

بازگشت صدها خانواده افغان از پاکستان در یک هفته گذشته----------------------------------------------------11

د کرکټ نړيوال جام کې افغانستان انګلينډ ته په ۶۹ منډو ماتې ورکړه ---------------------------------------------12

په هند کې د ۵۰ اووره يا يو ورځني کرکټ نړيوال جام په سياليو کې افغانستان د انګلستان (انګلينډ) لوبډلې ته په ۶۹ منډو ماتې ورکړه.------------------------------------------------------------------- 12

# متن کامل اخبار

## د ترکيي نوي سفير د مهاجرينو چارو له وزير سره وليدل

د وزارت وېب پاڼه



د افغانستان لپاره د ترکيې هېواد نوي سفير ښاغلي جنګ اونال د مهاجرينو او راستنېدونکو چارو له سرپرست وزير الحاج خليل الرحمن حقاني سره د هغه د کار په دفتر کې وليدل په پيل کې ښاغلي اونال په هرات ولايت کې د زلزلې له امله په اووښتو زيانونو خواشيني څرګنده کړه، د مهاجرينو چارو وزير ته يې د تسليت مراتب وړاندې کړل او ډاډ يې ورکړ، چې زمونږ د بيړنيو مرستو ټيمونه پروخت سيمې ته تللي او نږدې وخت کې به ددوی له لورې، نورې مرستې هم افغانستان ته راورسيږي نومونږي زياته کړه، ترکيه او افغانستان له يوبل سره ژورې اړيکې لري، چې هيڅکله به زيانمنې نه شي او دغه هېواد تل د افغانانو ترڅنګ ولاړ دی د مهاجرينو چارو وزير ښاغلي اونال ته د نوې دندې د مبارکۍ ترڅنګ نوموړي ته په چارو کې د بريالیتوب دعا وکړه او زياته يې کړه، ترکان او افغانان په اسلامي، عقيدوي او تاريخي توګه له يوبل سره ډېر مشترکات لري او دغه مشترکات بايد له يوبل سره د ښو اړيکو لامل شي نوموړي وويل، ترکيه دې د نړيوالو قوانينو مطابق د افغانانو د جبري ويستلو پرځای هغوی ته کار زمينه برابره کړي، ددوی د ښه خدمت په موخه دې د مهاجرينو اتشو ته اجازه ورکړي او کوم افغانان چې په خپله هېواد ته راستنيږي بايد د يوه ګډ ميکانيزم له لارې راستانه شي

## جبري راستنېدونکو د عمومي وضعيت سره د مبارزې کمېسيون د ننګرهار ولايت د اجرائيه کمېټي له کړنو څخه څارنه وکړه

د وزارت وېب پاڼه



**Website:** *https://morr.gov.af*

**Twitter:** *https://twitter.com/MoRRAfg*

**Facebook***: https://www.facebook.com/morr.gov.af2*



د مهاجرینو چارو وزارت مسلکي معین مولوي عبدالرحمن راشد ننګرهار ولایت ته د خپل سفر په ترځ کې د جبري راستنېدونکو د وضعیت د څېړلو کمیسیون په مشرۍ د اجباري راستنېدونکو په برخه کې د ولایتي اجرایوي کمیټې له کړنو څخه څارنه وکړه.

پلاوي د ولایت مقام له استازي او نورو چارواکو سره په لیدنه کې د جبري راستنېدونکو له پاره په وخت رسېدنه او د یوې انتظار خونې، د تورخم په پوله کې د یوه تشناب او د ۵۰۰ کډوالو له پاره په لعل پورې ولسوالۍ کې د موقتي کمپ په جوړولو ټینګار وکړ.

یاد کمیسیون د ا.ا.ا د رئیس الوزراء د عالي مقام د حکم پر اساس د راستنېدونکو د عمومي وضعیت د څېړلو، د سرپناه جوړولو او د هغوی د عاجلو اړتیاوو د حل په موخه د مهاجرینو چارو وزارت مسلکي مرستیال مولوي عبدالرحمن راشد په مشرۍ او په ترتیب سره د پېښو پر وړاندې د مبارزې، عامې روغتیا، کرنې او مالدارۍ، د کلیو د بیا رغونې او پراختیا وزارتونو د مرستیالانو او د سرې میاشتې استازي په ګډون د جبري راستنېدونکو وضعیت ته د رسېدو په موخه د موقتي کمپونو د جوړولو او دوی ته د خدماتو د وړاندې کولو په موخه توظیف شوی دی.

## د ایران د اوسېدونکو د ناڅرګندو پېښو د قربانیانو د ملاتړ په موخه د خلکو د دفتر لومړۍ غونډه جوړه شوه

د وزارت ویب سایت



**د هرات ولایت له زلزله ځپلو سره د خواخوږۍ او مرستې غونډه په مشهد کې د افغانستان د قونسلګرۍ په حضور کې په خانه فرهنګ کې جوړه شوه .**

**لومړی د ولسي دفتر منتخب رئیس محترم آیت الله وحیدی او ورپسې د جمهور رئیس مرستیال محترم استاد عبدالله ارزو د ولسي دفتر د جوړیدو موخه، د نوموړی اداري د غړو او تر سره شوو کړنو په اړه توضیحات ورکړل .**

**دغه راز په ایران کې د مېشتو افغان پانګوالو د ټولنې مشر ښاغلي اربابي هم خبرې وکړې او له زیانمن شویو سره یې د خپلو همکاریو او مرستو ډاډ ورکړ .**

**نوموړي د دغه دفتر جوړېدل د خلکو او ملي سوداګرو د مرستو د راټولولو لپاره اړین وګڼه، ور پسې د قونسلګرۍ د چارو مرستیال ښاغلي ډاکټر برهاني او د مهاجرینو د چارو اتشې محترم صدیق الله نصرت عتیق د موضوع په اړه خبرې وکړې او د خلکو د دفتر د جوړېدو او د هغې د فعالیتونو قدرداني یې وکړه .**

**په دې وروستیو کې په مشهد کې د افغانستان لوی قونسل محترم عبدالجبار انصاري، د علماوو، ملي سوداګرو، مخورو، خیریه بنسټونو، فرهنګي فعالانو او د ایران په اسلامي جمهوریت کې د مېشتو افغان مهاجرینو او سوداګرو د پر وخت اقدام په خاطر د ایران د اسلامي جمهوریت جمهور رئیس څخه د افغانستان له زلزله ځپلو سره د مرستې په خاطر مننه وکړه .**

**هغه ژمنه وکړه چې د خلکو د دفتر د رسمي کولو په برخه کې به په کوربه هېواد کې د خلکو د ادارو په جوړښت کې د یوې رسمي ادارې په توګه خپلو فعالیتونو ته دوام ورکړي، د اړتیا په وخت کې به اغیزمن او ګټور اقدامات ثبت او پلي کړي .**

**غونډه د هرات د زلزلې، فلسطین او د امام زمان په جومات کې د چاودنې شهیدانو روح ته د دعا او زخمیانو ته د بشپړې روغتیا په دعا سره پای ته ورسیده.**

## په هرات ولایت کې د زلزلې له امله تر سلو زیات کسان ټپیان شوي دي

د وزارت ویب پاڼه



د هرات ولایت د مهاجرینو چارو اداري د راپور له مخې په دغه ولایت کې د تلې ۲۳ مې نېټې د زلزلې له امله دوه تنه شهیدان او ۱۱۷ تنه نور ټپیان شوي او احتمال شته چې دغه شمېر زیات شي.

د هرات د مهاجرینو چارو رییس د دغې اداري له کارکوونکو سره یوځای له نورو ادارو سره د همغږۍ په موخه د زنده جان ولسوالۍ په زیانمن شوې سیمه کې حضور لري او د هرات د وروستۍ زلزلې له امله د زیانمن شویو کسانو سروې هم د دغه ټیم له خوا روانه ده.

د یادولو ده چې تېره شپه د زلزلې له امله ۹۰۷ زیانمن شوي کسان چې د باباجي سیمې په یوه ښوونځي کې په ازاده فضا کې بند پاتې وو د مهاجرینو چارو ریاست په انګېز کې انصار کمپ ته انتقال شوي چې د روغتیایي او خدماتي ټیمونو له خوا ور ته خدمات وړاندې کېږي.

## په نورستان ولایت کې له لسګونو کورنیو سره نغدي مرسته وشوه

د وزارت وېب پاڼه




د نورستان ولایت په وانت وایګل ولسوالی کې له ۶۱ کورنیو سره د تلي په ۲۳مه نغدي مرستي وشوې.

یادې کورنی چې مخکې د دغه ولایت د مهاجرینو چارو ریاست له خوا اړمنې پېژندل شوې وې د مهاجرینو په برخه کې د ملګرو ملتونو عالي کمیشنری له خوا پر دوی د ۶۱ زرو او ۸۰۰ افغانیو مرسته وېشل شوې ده .

## له ایران څخه څه باندې درې زره مهاجر هېواد ته راستانه شول

د وزارت وېب پاڼه

د میزان په ۲۳مه له ایران څخه درې زره او ۱۳۳ افغان مهاجرین په جبري او خپله خوښه خپل هېواد ته راستانه شول.

د اسلام قلعې د سرحدي آمر د معلوماتو له مخې، د یادو کسانو له جملې د کورنیو او مجردانو په ګډون ۳۱۶ تنه اړ او زیانمن کسان تشخیص او د مهاجرت نړیوال سازمان دفتر ته د مرستو تر لاسه کولو په موخه ور وپېژندل شول چې خوراکي او غیر خوراکي توکي یې ترلاسه کړل.

## له پاکستانه څه باندې ۳۰۰ افغان کډوالي کورنۍ بېرته هېواد ته راستني شوې

د وزارت وېب پاڼه

د ننګرهار ولایت د مهاجرینو چارو ریاست د میزان په ۲۳ مه په پاکستان کې د میشتو ۳۸۴ افغان مهاجرو کورنیو د راستنېدو خبر ورکړی.

د ننگرهار ولایت د تورخم سرحدي آمریت د معلوماتو له مخي، ۳۸۴ کورنی چې دوه زره او ۲۳۰ تنه پکي شامل دي، د تورخم له لارې هېواد ته راستني شوي او د مهاجرینو چارو اداري کي له نوم لیکني وروسته د مهاجرت نړیوال سازمان او د کډوالو له پاره د ملګرو ملتونو د عالي کمېشنرۍ دفترونو ته د مرستو په موخه ور و پېژندل شول

## کمک نقدی برای 45 خانواده در ولایت بادغیس توزیع شد

ویب سایت وزارت



**آمریت امور مهاجرین ولایت بادغیس از توزیع کمک نقدی برای 45 خانواده به تاریخ 22 میزان خبرداد.**

**این مساعدت جهت ایجاد شغل و تجارت های کوچک، نظر به نوعیت اشتغال برای 12 فامیل مبلغ 50 هزار افغانی و برای 33 فامیل مبلغ 30 هزار افغانی از طرف کمیشنری عالی سازمان ملل متحد در امور پناهنده گان توزیع شد.**

## په بلخ ولایت کې پر ۱۴ کورنیو د خوراکي توکو مرسته وویشل شوه

د وزارت ویب سایت



د بلخ ولایت د مهاجرینو چارو ریاست د تلې په ۲۲مه له ۱۴ بې ځایه شویو کورنیو سره د خوراکي توکو د مرستې اعلان وکړ.

یادې کورنۍ د مهاجرینو چارو ریاست له لوري د شور تپې ولسوالۍ په مربوطاتو کې پېژندل شوې او د افغانستان-امریکا د دوستۍ بنسټ له خوا د پنځه زره افغانیو په ارزښت د خوراکي توکو مرسته ور سره شوې ده.

## بیش از هزار نفر مهاجر از ایران به کشور عودت نمودند

ویب سایت وزارت



یک هزار و 373 نفر افغان مهاجر به تاریخ 22 میزان طور جبری و داوطلبانه از ایران به وطن برگشته اند.

به گفته آمر سرحدی اسلام قلعه، از جمله افراد مذکور که شامل خانواده ها و مجردین بودند، 208 نفرآنها نیازمند وآسیب پذیر تشخیص و غرض اخذ کمک، به دفترسازمان بین المللی مهاجرت معرفی و مواد غذایی و غیر غذایی را بدست آوردند.

## علاقه‌مندی شرکت‌های ترکی در راستای سرمایه گذاری در سکتور زراعت و مالداری افغانستان

آژانس اطلاتی باختر



**Website:** *https://morr.gov.af*

**Twitter:** *https://twitter.com/MoRRAfg*

**Facebook**: *https://www.facebook.com/morr.gov.af2*



مولوی عطا الله عمری سرپرست وزارت زراعت ، آبیاری و مالداری امروز با هیئت رهبری شرکت ترکی تی آی گروپ گرین اکشن دیدارکرد و طرفین د رمورد سرمایه گذاری وکار دربخش زراعت و مالداری صحبت کردند.
مصباح مستعین سخنگوی وزارت زراعت، آبیاری ومالداری به آژانس باخترگفت:دراین دیدارکه سرپرستی این تیم را حسین گونای رئیس شرکت گرین اکشن در افغانستان به عهده دارد و چند تن از متخصصان فنی شرکت نامبرده نیز حضور داشتند در مورد چگونگی و کار و سرمایه گذاری این شرکت در افغانستان صحبت شد و مسوولان این شرکت ازآمادگی شان برای سرمایه گذاری و کار درافغانستان در بخش زراعت ومالداری خبردادند.
سپس سرپرست وزارات زراعت، ابیاری و مالداری برای یک تیم مشترک هدایت داد که این تیم همراه متخصصان شرکت نامبرده به ولایت‌های مختلف سفر نموده و تحقیق کنند که در کدام ولایت کدام نبات حاصل می‌دهد و بعد گام‌های بعدی برداشته خواهد شد.
همچنان رئیس شرکت ترکی از ابراز علاقه‌مندی شرکت‌های دیگر ترکی در راستای سرمایه گذاری در سکتور زراعت و مالداری افغانستان خبرداده و نیز از تشویق چندین شرکت دیگر جهت کار و سرمایه‌گذاری در افغانستان سخن گفت.

## علاقمندی سرمایه گذاری یک تاجر ایرانی به سرمایه گذاری در بخش معدن کشور

آژانس اطلاتی باختر




شیخ الحدیث شهاب الدین دلاور سرپرست وزارت معادن و پترولیم در دیدار با یک سرمایه گذار ایرانی روی سرمایه گذاری در بخش های معادن کشور بحث و گفتگو نمود.
دفتر مطبوعاتی وزارت معادن و پترولیم بانشر خبرنامه یی گفته است :درین دیدار دو طرف در رابطه به فرصت های موجود سرمایه گذاری بالای منابع معدنی افغانستان بحث و تبادل نظر نموده و سرمایه گذار ایرانی علاقه مندی اش را روی معادن سرب و جست ابراز نمود.
سرپرست وزارت معادن و پترولیم در این دیدار وعده همکاری و ایجاد سهولت ها را به منظور سرمایه گذاری بهتر این سرمایه گذار ابراز کرد.

## ۵ هزار افغان از طریق گذرگاه چمن - سپین بولدک به افغانستان برگشته اند

رادیوآزادی




**مقامات شهر چمن ایالت بلوچستان پاکستان می‌گویند که ۵ هزار افغان طی ۱۵ روز اخیر از طریق گذرگاه چمن - سپین بولدک به افغانستان بازگشته اند.**
**برخی از رسانه‌های پاکستان دیروز یکشنبه گزارش دادند که روند بازگشت افغان‌ها به کشور شان از طریق این گذرگاه ادامه دارد.**
**وزارت داخلهٔ پاکستان در اوائل ماه جاری میلادی به تمام شهروندان خارجی بدون اسناد قانونی اقامت در آن کشور به شمول افغان‌ها تا اول ماه نومبر مهلت داد که پاکستان را ترک کنند در غیر آن اخراج خواهند شد.**
**نهادهای حقوق بشری و حکومت امارت اسلامی از اسلام آباد خواسته اند که مهاجرین افغان را به زور اخراج نکند.**

## بازگشت صدها خانواده افغان از پاکستان در یک هفته گذشته

رادیوکلید

**وزارت امور مهاجرین و عودت‌کنندگان، اعلام کرده است که طی حدود یک هفته، یک هزار و 700 خانواده افغان، از پاکستان به کشور برگشته‌اند**

**در یک اعلامیه این وزارت به نقل از آمریت سرحدی سپین‌بولدک ولایت کندهار، آمده است که از پانزدهم تا بیستم ماه میزان سال جاری 820 خانواده، شامل چهار هزار و 975 تن، به‌گونهٔ داوطلبانه برگشته و یا هم اخراج شده‌اند.**

**منبع می‌افزاید که در میان مهاجران برگشته، 391 تن از افغان‌هایی که از زندان‌های پاکستان آزاد شده‌اند نیز شامل‌اند.**

**از سویی هم بر اساس معلومات ریاست امور مهاجرین و عودت‌کنندگان ولایت ننگرهار، در 20 و 21 ماه میزان سال جاری، 915 خانواده افغان از بندر تورخم نیز به کشور برگشته‌اند.**

**گفتنی‌است که حکومت پاکستان برای مهاجران افغان که اسناد قانونی نداشته باشند، تا ماه نوامبر فرصت داده است تا به افغانستان برگردند، در غیر آن دستگیر و به زور اخراج خواهند شد.**

## د کرکټ نړیوال جام کې افغانستان انګلېنډ ته په ۶۹ منډو ماتې ورکړه

راډيومشال




**افغان لوبغاړي د اکتوبر پر ۱۵مه د انګلېنډ د عادل رشید تر سوځولو وروسته خوشالي کوي .**

**شریک کړئ**

**په هند کې د ۵۰ اووره یا یو ورځني کرکټ نړیوال جام په سیالیو کې افغانستان د انګلستان (انګلېنډ) لوبډلې ته په ۶۹ منډو ماتې ورکړه.**

**دا لومړی ځل دی چې افغان لوبډلې په یو ورځنیو سیالیو کې د انګلېنډ لوبډله، چې د تېر نړیوال جام اتله ده، ماته کړه. دا په روان نړیوال جام کې د افغانستان لومړی بریا وه.**

**د اکتوبر پر ۱۵مه د نوي دلي په ارون جېټلي لوبغالي کې سیالی د پېښور پر وخت د ماسپښین پر یوه نیمه او د کابل پر یوه بجه پیل شوه چې پکې پچه انګلېنډ وګټله خو د توپ اچونې یا بالېنګ پرېکړه یې وکړه.**

**د افغان لوبډلې رحمان الله ګربز او ابراهیم ځدران ښه بیټینګ وکړ او ځدراڼ په ۱۷م اوور کې د ۲۸ منډو تر جوړېدو وروسته وسوځېد. د افغانستان لوبډله هغه وخت له مشکل سره مخامخ شوه چې تر رحمت شاه وروسته ګربز وسوځېد او بیا په یو وخت کې پر ۱۹۰ منډو شپږ وېکټې پرېوتې وې.**

**خو په پای کې اکرام علیخېل او راشد خان چټکه لوبه وکړه او منډې یې ۲۳۳ ته ورسولې. تر هغې وروسته علیخېل او مجیب الرحمان ټولې منډې تر ۲۷۷ ورسولې.**

**د افغانستان ټول لوبغاړي په ۵۰م اوور کې په ۲۸۴ منډو وسوځېدل. ګربز ۸۰، علیخېل ۵۸ او ځدراڼ او مجیب الرحمان ۲۸، ۲۸ منډې وکړې. د انګلېنډ عادل رشید درې او مارک ووډ دوه لوبغاړي وسوځول.**

په ځواب کې چې انګلستان توپوهنه پیل کړه نو دوه لوبغاړي یې ژر اوټ شول .وروسته ډېوېډ ملان او هیري بروک لوبې ته دوام ورکړ خو ملان په ۳۲ منډو وسوځېد. کله چې جاس بټلر، لېیام لېوېنګسټون او سیم کرن وسوځېدل نو د انګلینډ لوبډله له مشکل سره مخامخ شوه.

تر دې وروسته مجیب الرحمان کرېس ووکس او هیري بروک وسوځول او د انګلستان ټول لوبغاړي په ۴۰م اوور کې په ۲۱۵ منډو وسوځېدل.

د انګلینډ بروک ۶۶، ملان ۳۲ او رشید ۲۰ منډې وکړې. د افغانستان مجیب الرحمان او راشد خان درې، درې او محمد نبي دوه لوبغاړي وسوځول.

د افغانستان مجیب الرحمان د سیالی غوره لوبغاړی شو.

تر دې یوه ورځ مخکې په بله سیالی کې هند پاکستان ته په اووه وېکټو ماتې ورکړې ورکړې وه.

د اکتوبر پر ۱۴مه د ګجرات په احمد اباد کې په سیالی کې لومړی بیټېنګ پاکستان وکړ خو ټول لوبغاړي یې په ۴۳م اوور کې په ۱۹۱ منډو وسوځېدل. هند د ۱۹۲ منډو هدف د درو لوبغاړو په سوځېدو په ۳۱م اوور کې پوره کړ.

ټاکل شوې چې د اکتوبر پر ۱۶مه د استرالیا او سري لنکا لوبډلې او تر دې یوه ورځ وروسته د جنوبي افریقا او نېدرلینډز (هالینډ) لوبډلې یو بل ته مخامخ شي.

د کرکټ نړیوال جام سیالۍ د اکتوبر له پینځمې راهیسې رواني دي چې پایلوبه به یې د نومبر پر ۱۹مه کېږي. په سیالیو کې ۱۰ لوبډلې برخه اخلي.

د نړیوال جام په لومړي پړاو کې هره لوبډله له نورو لوبډلو سره سیالي کوي او په پای کې به د سر څلور لوبډلې نیمه پایلوبې او بیا وروسته به دوه لوبډلې پایلوبې ته لاره مومي.